# SUPERSTITIOUS THOUGHTS AND REPRESENTATION IN THE POETRY OF ABDUL HAMEED BABA

# د عبدالحمید بابا په کلام کښې موهومي تصوراتي توکي

Dr. Shakeel Ahmed★

**Abstract:**

Superstitious phenomenon reflects the civilizational, educational and cultural evolution of a society in different periods of time. This is something naturally gifted by heaven to every society of the world. Pashtuns also entertain such superstitious nature imaginations continued for centuries such imaginations are part of our folklore literature and can be seen in large number in classic literature too. Even today's poets represent such thoughts. Abdul Hameed Baba who is considered as the third most popular and authentic poet of Pashto poetry has also given place to superstitious thoughts in his poetry. In this paper superstitious representation in his poetry will be discussed at length.

**Keywords**: Superstitious, Phenomenon, Civilization, Cultural Evaluation

موهومي او توهماتي تصورات د نړۍ په هر قام کښې موندلے شي. چې د یو قام په علمي استعداد ، چاپېرچل او نفسیاتي اکر و دلالت کوي. توهماتي تصورات هغه څیزونو، نظریو، تصوراتو او عقیدو ته وئیلے شي چې په حقیقت کښې هېڅ وجود نۀ لري. ولې د اولس یوه برخه پرې یقین لري او د هغوي د ذات په داخلي او خارجي چارو اغېزه پرېباسي.

پښتو اکېډمي لغت د موهوم معنې داسې کوي:

"وهم کړے شوے، وهمي، خیالي، فرضي"[1]

"وهم د انسان هغه فعل، حرکت یا کار ته وئیلے شي چې څۀ عقلي، دیني، سائنسي او علمي دلیل، تاویل او جواز نۀ لري".[2]

---

★ Lecturer(Contract), Department of Pashto University of Peshawar

یعنې هغه خیالات او تصورات چې په عملي ژوند کښې نۀ پېښېدونکي وي او نۀ ئې د حقیقت سره څۀ تعلق وي. دا قسمه تصورات نۀ خو د یو کس زېږونه ده او نۀ د یو زمان. بلکې داسې قسم تصوراتي عقیدې په یوه ټولنه کښې د کم علمۍ، بې سوادۍ، جهالت او د جدید تعلیم د نشتوالي په ترڅ کښې مېنځ ته راغلي دي او د یو نسل نه بل نسل ته سینه په سینه او خولۀ په خولۀ په خپل روایتي انداز کښې منتقل شوې دي. ولې جدید سائنس او علم دغه ټولې موهومي او تصوراتي عقیدې بې بنیاده ثابت کړې دي ځکه چې دغه قسمه موهومي او تصوراتي خیالات او عقیدې هېڅ قسمه منطقي، عېني، حقیقي او علمي بنسټ نۀ لري. خو بیا هم د نړۍ په ځینې هغه علاقو کښې چې د مدنیت نه لرې وي، یو شمېر خلقو دغه عقیدو سره خپلې رشتې کلکې تړلې دي او پوخ یقین او باور پرې لري.

د دغه موهومي تصوراتي توکو نخښې نښانې زمونږ په اولسي ادب، افسانو، قیصو او حکایتونو کښې څرګندې لیدلے شي. دغه رنګ د کلاسیکي او اوسني دود د شاعرانو او لیکوالانو په لیکونو کښې هم د خپل اولس یا بل قام دغه موهومي تصوراتي عقیدې، کومې چې د ټولنې له مېنځه راپورته شوې دي، ښکاره لیدلے شي.

عبدالحمید بابا څوک چې د پښتو شعروادب درېم استاد او د نازک خیالۍ د دبستان سرخېل ګڼلے شي، هم د خپل شعر په ښکلي لاله زار کښې دغه موهومي تصوراتي توکي او عقیدې د فرهنګ د مینه والو دپاره وړاندې کړې دي او په خپلو اثارو کښې ئې د تل دپاره خوندي کړې دي. خو د دې دا مطلب هر ګز نۀ دے چې ګنې حمید بابا په دغه تصوراتي عقیدو باور لري. بلکې د دې په ذریعه عبدالحمید بابا د ټولنې عکاسي کړې ده.

په دغه توهماتي توکو کښې عنقا، ققنس، بلا، د ژوند چینه، جامِ جم، سمندر او ځینې نور شامل دي چې حمید بابا په خپل کلام کښې نمانځلي او سنجولي دي.

## ققنس:

ققنس یو روایتي، نکلي او افسانوي مارغۀ دے. د دغې مارغۀ مښوکه درې سوه شپېتۀ (۳۶۰) سورې لري. وئېلے شي چې دغه مارغۀ هر قسم راګ یا په وزن اواز ویستلے شي او هم د دغې رنګ رنګ اوازونو نه د موسیقۍ علم وتلے دے.

د ققنس عمر تقریباً زر کاله وي. کله چې د زرو کالو شي نو د عمر په پائې کښې ځان ته لرګي راټولوي او بیا په دغه لرګو کښېني خپلې لوئې لوئې وزرې وهي او د وزرو وهلو سره دغه ډکې او

لرګي اور اخلي. او دغه مارغۀ پکښې ځان سوزوي او ايره کېږي. بيا د باران په وجه دغه ايرو نه اګې پېدا شي او د اګې نه بل ققنس پېدا شي. مطلب د نورو مارغانو غونډې جوړه نۀ لري.

پښتو اکېډېمي لغت د لرګو د اور اخستلو وجه د ققنس خوږ اواز ښائي او ليکي:

"چې د مرګ وخت ئې راشي نو اوچ ډکي لرګي ځانته جمع کړي او پکښې کښېني او په مستۍ کښې سندره شروع کړي او هر کله چې د "پيک راګ" شروع کړي نو په دغو لرګو اور اولګي او دے پکښې اوسوزي او ايره شي".[3]

عالمـــــه حـــــال مـــــې د ققـــــنس شـــــو
پـــه صـــحرا ډکـــي تولـــوم ځـــان پـــرې ســـېزمه

ققنس مارغۀ په ققنوس، اور مارغۀ، موسيقار او ډګر مارغۀ هم ياد شوے دے.

عبدالحميد بابا په خپلو ځينې شعرونو کښې د دغه روايتي، نکلي او افسانوي مارغۀ يادونه کړې ده. لکه:

پـــه بـــد خويـــو اور لـــه خپلـــه تنـــه لګـــي
خپلـــه جالـــه کـــړي پـــه ځـــان تنـــور ققـــنس[4]

هـــر نفـــس لکـــه ققـــنس پکښـــې ورتېـــږم
بېلتانـــۀ دې کلـــے کـــور راتـــه ســـور اور کـــه[5]

## عنقا:

عنقا هم يو خيالي او فرضي مارغۀ دے چې صرف د نوم پورې محدود دے. په دې مارغۀ پسې يو شمېر بې بنياده قيصې مشهورې دي خو اوس ورک دے.

عنق د عربۍ ژبې لفظ دے چې معنیٰ ئې اوږدې مرۍ والا دے. او هم دغه وجه ده چې دغې مارغۀ ته د اوږدې مرۍ له وجې عنقا وائي. وائي چې دا يو ادم خور ځناور دے ځکه ئې ځينې خلق د وينو ښښلو سمبل بولي.

دغه خيالي او اولسي مارغۀ ته په فارسۍ کښې سيمرغ وائي. چونکې دا مارغۀ چا ليدلے نۀ دے نو ځکه عنقا د ناياب، ناپېد او معدوم په معنیٰ هم استعمالېږي.

علي محمد منګل په خپل کتاب "استاد الفت او فولکلور" کښې د دغې خيالي او فرضي مارغۀ په حقله ليکي چې:

"عنقا د خلقو د عقيدې له مخې.....يو ورک خيالي او فولکلوري مارغۀ دے. وائي چې ډېر لوئې دے. د دوي په پوهه دا مارغۀ د قاف په غرۀ (کوه قاف) کښې اوسي".[6]

عبدالحميد بابا د دغه فرضي، خيالي او اولسي مارغۀ نوم په يو شمېر شعرونو کښې اخستے دے لکه:

نۀ به بيا مونده وعده شي د خوبانو
نۀ به شي د چا په لومه کښې عنقا پېښ[7]

څۀ عنقا شوې زما مراده
چې دې يافت شو بې بنياده[8]

## هُما:

هُما يو بختوره او نېکمرغه روايتي مرغۍ ده. د دې مشهورې خيالي مرغۍ په حقله د کليو بانډو خلقو دا عقيده ده چې دا مرغۍ د چا په سر تېره شي او يا ئې سېورے د چا په سر پرېوځي نو بخت ئې بېداريږي او بادشاهي ئې په نصيب کيږي.

دا مرغۍ چا ليدلې نۀ ده خو وائي چې په هوا کښې ګرځي. په هوا کښې اګۍ اچوي او په هوا کښې بچي راوړي. د دې مرغۍ خوراک هډوکي دي.

عبدالحميد بابا په خپلو يو شمېر شعرونو کښې د دغې روايتي او موهومي مرغۍ يادونه کړې ده چې ځينې پکښې دا دي:

طلبوه سرفرازي په سرکوزۍ کښې
راکوزيږي په هډوکي هما بنکته[9]

د خط خيال مې دې له سره تلونے نۀ دے
که سايه پرې د هُما شي برابره[10]

دا ئـــې خـــط پـــه داد د وصـــل ســـرفراز کـــړم
کـــه همـــا مـــې پـــه تنـــدي برابـــر راغـــے[11]

ماتـــه پېښـــه شـــوه خـــواري د يـــار لـــه خطـــه
کـــه بخښـــي چاتـــه دولـــت پـــر د همـــا ئـــې[12]

بادشـــاهي بـــه دې پـــه ســـپوري پســـې ګرځـــي
کـــه قـــانع پـــه اســـتخوان لکـــه همـــا ئـــې[13]

## سَمنْدرَ:

سمندر چې "مرغ اتش خور" هم ورته وائي، محض يو فرضي، خيالي او روايتي چينجے دے چې د مږې برابر وي او په کوم ځائې کښې چې سل کاله اور بل شي نو هلته پېدا کېږي. او د اور نه په اوښکلو باندې ژوندے نۀ پاتې کېږي. وئيلے شي چې د دې د څرمن نه ټوپۍ جوړېږي او دغه ټوپۍ چې خيرنه شي نو اور ته په اچولو بيا صفا کېږي.

د سمندر د نوم په حقله ځينې پوهان وائي چې دا نوم په اصل کښې مرکب نوم دے. چې د سام او اندر نه جوړ شوے دے. دسام معنٰی اور ده او اندر د دننه په معنٰی دے. يعنې د اور دننه. دغه رنګ سمندور، سمندول او سمندوت د دې لفظ اوختي شکلونه دي.

ښاغلے فضل مير خټک دغه لفظ د ريښې د انګرېزۍ او لاطينۍ ژبې د سالامنډر (Salamandar) يا سالامنډرا کښې لټوي او ليکي چې:

> "انګرېزۍ کښې يو لفظ دے "سالامنډر" (Salamandar) چې د لاطيني لفظ "سالامنډرا" نه وتے دے. وائي چې دا د ټيپوس برابر يو ځناور غوندې دے چې د هغې متعلق هم دا مشهوره ده چې په اور کښې ژوند کوي. که چرې دا خبره درسته وي بيا خو سمندر او "سالامنډر" يو شے دے. او د سمندر لفظ د سالامنډر يا سالامنډرا نه جوړ دے نه چې د سام او اندر نه"[14]

بهر حال خبره چې هر څنګه ده خو د دې چينجي يا ځناور په حقيقت کښې هېڅ وجود نشته او نۀ چا تر اوسه ليدلے دے. خو يو فرضي، خيالي او روايتي چينجے دے او د دې چينجي متعلق عوام

مختلف تصورات او عقیدې لري چې د حقیقت سره ئې هیڅ پوله پټې نۀ دے شریک او نۀ ئې ورسره تعلق شته.

لکه د فارسۍ، اردو او ځینې نورو ژبو د شاعرانو غوندې دا موهومي توکې د پښتو ژبې شاعرانو هم په خپله شاعرۍ کښې سنبال کړے او محفوظ کړے دے او بیا په تېره تېره عبدالحمید بابا خو د خپل دیوان "در و مرجان" هم په وړومبي شعر کښې د سمندر یادونه کړې ده لکه چې وائي:

الهـــــي د محبـــــت ســـــوز او گـــــداز را
پـــه دا اور کښـــې د ســـهي ســـمندر ســـاز را[15]

ځینې نورو شعرونه چې پکښې د "سمندر" ذکر شوے دے.

هســـې یـــم پـــه درد و غـــم کښـــې د دلبـــر خـــوښ
لکـــه اوســـي پـــه ســـرۀ اور کښـــې ســـمندر خـــوښ[16]

څـوک دې ویـاړ زمـا د حـال نـۀ کـړي پـه عشـق کښـې
ســـــمندر پـــــه اور کښـــــې اوســـــي اســـــوده[17]

هـــــر زحمـــــت درتـــــه راحـــــت کـــــړو عاشـــــقۍ
ســـمندر غونـــدې گلگشـــت کـــوم پـــه اور کښـــې[18]

## بلا:

هسې خو بلا مونږ د مصیبت او آفت په معنو اخلو خو د عوامو د عقیدې له مخه بلا یو باقاعده مجسم شکل لري. دا د شپې په توره تیارۀ کښې پیدا کېږي او په مختلفو بدو شکلونو کښې ښکاره کېږي. خلق یروي او چې څوک اووهي او په ملا ډب ورکړي نو ژوندے نۀ پاتې کېږي. ملا ئې شنه وي او د بلا د لاس نخښنه پرې پرته وي.

بلا په چاقو، چاړۀ یا وسله نۀ مري. دغه رنګ که وینه ئې توې شي نو د هر څاڅکي نه ئې په زرګونو نورې بلاګانې پیدا کېږي. ولې په ډېرو روایتي قیصو کښې مذهبي خلقو دغه بلاګانې د قرآن په ایاتونو او اورادو مطیع کړې دي. بلا کله خو دومره غټه شي چې سر ئې اسمان ته لګي او کله دومره وړه شي چې په موټي کښې ځائېږي.

بلا د پښتو په اولسي ادب او د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې ډېره ياده شوې ده. عبدالحميد بابا هم په خپله شاعرۍ کښې ځائې په ځائې د بلا نوم اخستے دے او د عوامو دغه موهومي عقيدې ته ئې په خپله شاعرۍ کښې ځائې ورکړے دے. لکه چې وائي:

ما هم زده چې عاشقي توره بلا ده
بارې تېر د دې تدبيره کړم تقدير[19]

جدائي د يار اشنا توره بلا ده
خدا ے دې نۀ کړي مسلمان په دې بلا پېښ[20]

چې د غمه له هجران نۀ مرې حميده!
نۀ پوهېږم څۀ بلا له ئې ډېل[21]

چې و مينې ته د ترکو بلا وايم
هېڅ دروغ په دا کښې نشته رښتيا وايم[22]

لکه چې وړاندې په وړومبي دوؤ شعرونو کښې د بلا د نوم سره "توره" لفظ د مختاړي (سابقه) په طور استعمال شوے دے. دغه رنګ شيشکه، شېخۍ او بَو هم د بلا د سابقې په طور استعمالېږي. لکه توره بلا، شيشکه بلا، شېخۍ بلا او بَو بلا. بَو کله کله يواځې هم استعمالېږي او هم د وېرې، مصيبت او بلا په معنو استعمالېږي. لکه چې حميد بابا وائي:

چې ئې څوک په خوب کښې اووينې اونۀ مري
ياره ستا د بېلتانۀ هسې بَو نۀ دے[23]

## آب حيات او خضر:

د آب حيات په حقله درياب ډکشنري ليکي:

"د ژوند اوبۀ – هغه فرضي اوبۀ چې د هغې په څښلو عمري ژوند حاصلېږي".[24]

دا یو تلمیحي روایت دے چې لرې چرته په یو ځائې کښې یوه چینه ده چې د آب حیات چینه ورته وائي او څوک چې د دغه چینې نه اوبۀ اوڅښي نو دائمي ژوند ئې په نصیب کېږي او تر قیامته به ژوندے وي.

د حضرت خضر علیه السلام متعلق مشهوره ده چې هغۀ دغه اوبۀ (آب حیات) څښلي دي او د دغې آب حیات په وجه به هغه د قیامت پورې ژوندے وي. ځکه نو دې آب حیات ته آب خضر هم وائي.

د مسلمانانو د عقیدې مطابق خضر علیه السلام پېغمبر یا ولي الله دے، چې د ژوند د اوبو څښلو په وجه به تر قیامته ژوند کوي. دې نه علاوه په عوامو کښې دا عقیده هم شتون لري چې خضر علیه السلام د ډېرو خوارو، بې کسو او بې وسه خلقو مدد او مرسته کړې ده او هغوي ئې تر خپله مرامه رسولي دي.

د عوامو په عقیده د حضرت خضر علیه السلام پېژندګلو دا ده چې د ښي لاس کټه ګوته ئې د بند هډوکے نۀ لري او هم دغه وجه ده چې تر اوسه په ځینې کلو بانډو کښې د دغې عقیدې په بنیاد د مسافر، مېلمه او ناپېژندګلو بنده لاس د سترې مشي په وخت کلک نیسي او معلوموي چې د کټې ګوتې د بند هډوکے ئې شته او که نه. او که خضر علیه السلام پرې ورپېښ شي نو چې د ځان دپاره ورته د دعا خواست اوکړي.

په یو شمېر فولکلوري او اولسي قیصو کښې حضرت خضر علیه السلام د خلقو سره مرسته کړې ده او په خپل کرامت ئې ډېر بندیان تر خپل هدف رسولي دي.

د خضر علیه السلام متعلق دا هم وایه کېږي چې یوه خولۍ / ټوپۍ لري چې هغه ئې په سر اېښې وي نو څوک ئې نۀویني.

عبدالحمید بابا په خپل کلام کښې ځائې په ځائې د آب حیات او خضر توکي استعمال کښې راوستي دي. او خپل کلام ته ئې پرې ښکلا وربخښلې ده. لکه دا شعرونه:

څو اوبۀ دې د حیات نوشلې نۀ دي
دا دې واړه نادانۍ ده وهي جخ[25]

د هغو د لاس اوبۀ د حیات مۀ څښه
چې اخر ئې لاندې کېږې تر منته[26]

ډېــرو ســـولو د هجـــران خضـــر پښـــېمان کـــړو
د حيـــــاتو د اوبـــــو پـــــه بـــــدو ځښـــــو[27]

لــــه ســـــتمه دي کـــــرم هســــې جلــــوه کـــړي
لکـــه برېښــــي آب حيـــات لــــه تــــوره تمـــه[28]

## جامِ جم:

جم د جمشېد بادشاه لقب دے، کوم چې د ايران لوئي بادشاه تېر شوے دے. او جام د دهٔ د نوم سره تړلې هغه پياله ده کومه کښې چې به د نړۍ ښهٔ او بد معلومېدل او د وخت پېښې بـه پکښې ښکاره کېدلې. دا جام په مختلفو نومونو ياد شوے دے لکه جامِ جم، جامِ جمشېد، جامِ جهان نما، جامِ جهان آرا، جامِ جهان بين او پياله وغېره.

وئېلے شي چې دا پياله د نجوم د قاعدې او ضابطې تر لاندې جوړه شوې وه چې بـه پکښې د اسمان د ستورو مقام او د هغو په ذريعه د دنيا حالات او واقعات ليدلے او معلومولے شول .

"د جامِ جم د فولکلوري رواياتو لمن دومره فراخه ده چې په پښتو او دري ادب کښې په زياته پېمانه ياد شوې او بېلو بېلو شاعرانو د خپل فکر سره سم تصوفي او ادبي تعبيرونه ترې کړي".[29]

د عبدالحميد بابا دغه شعر هم د لوستلو دے په کومه کښې چې ئې د جامِ جم ذکر کړے دے.

آئينـــــه د زنګـــــون اونيســـــه و مـــــخ تـــــه
پکښــــې اوګــــوره احـــوال د جــــام جـــم[30]

غـرض دا چې عبدالحميد بابا د خپل کلام په ښکلي لالـه زار کښې يـو شمېر موهـومي تصوراتي توکو او عقيدو ته ځائې ورکړے دے او دغه توکي ئې د تل دپاره خوندي کړي دي.

د نتيجې په توګه دا وئېل اسانېږي چې توهماتي تصورات د يو قام د تهذيبي، علمي، ثقافتي او تمدني ارتقاء له بېلا بېلو پړاونو څخه پرده پورته کوي. د خپلې پوهې سره سم پښتون اولس هم د خپل تهذيبي پرمختګ په بهير کښې يو شمېر توهماتي تصورات په خپلو ذهنونو کښې پاللي او تر دې دمه رارسولي دي. هر څو که د نوي سائنسي برخېرنو سره ډېره نهٔ لګوي خو پښتو ادب ته ئې د فکري، علامتي او تفهيمي پراختيا لاره برابره کړې ده. د پښتو ژبې په ادب کښې ئې خوږلت، بلاغت

او تخیلاتي لوړتیا زېږولې او موضوعاتي تنوع ئې پیاوړې کړې ده. دغه ښېګړې ئې چونګ د خروار په بېلګه د حمید بابا په کلام کښې په لپو لپو ننداره کېږي. د هغۀ نازک خیالۍ ته تکیه ورکوي او د هغۀ موشګافۍ ته ئې نوره ښکلا او ځلا وربخښلې ده. دغه توهماتي تصورات نن هم د اظهار او ابلاغ په لار اغېزمن او زړۀ پورې کولو کښې غوره کردار لوبولے شي.

---

## References


1. Pukhto Academy "Lughat", Pukhto Academy Pekhawar University, 2019, pp. 1702
2. Dawood, Dawar Khan, Da Rahman Baba Sher Ke Pukhtani Wahmoona, Mashmoola Abaseen Pen Graphics Pvt. Ltd, Islamabad, May, June 2007 , pp. 25
3. Pukhto Academy "Lughat", pp. 1337
4. Abdul Hameed Baba, Dur Ao Marjan (Muqadema) Dr. Syed Anwarul Haq Jilani, University Book Agency Khyber Bazar Pekhawar, pp. 38
5. Hum Dagha Asar, pp. 107
6. Mangal, Ali Muhammad, Ustad Ulfat Ao Folklore, Da Afghanistan Da Alumu Acadmi, 1388 Hijri Shamsi, pp. 59
7. Abdul Hameed Baba, Dur Ao Marjan, pp. 40
8. Hum Dagha Asar, pp. 83
9. Hum Dagha Asar, pp.79
10. Hum Dagha Asar, pp. 89
11. Hum Dagha Asar, pp. 109
12. Hum Dagha Asar, pp. 114
13. Hum Dagha Asar, pp. 135
14. Khattak, Fazal Mir, Fazliyat, da Pukhto Adabi Istelahaat, 1999, pp. 239, 240
15. Abdul Hameed Baba Dur Ao Marjan, pp. 1
16. Hum Dagha Asar, pp. 40
17. Hum Dagha Asar, pp. 85
18. Hum Dagha Asar, pp. 130
19. Hum Dagha Asar, pp. 30
20. Hum Dagha Asar, pp. 40
21. Hum Dagha Asar, pp. 58

22. Hum Dagha Asar, pp. 67
23. Hum Dagha Asar, pp. 112
24. Pukhto Lughat “Daryab”, NWFP Text Book Board Pekhawar, Ameer Printers Darbar Markete Lahore, 1994, pp. 2
25. Abdul Hameed Baba, Dur Ao Marjan, pp. 33
26. Hum Dagha Asar, pp. 80
27. Hum Dagha Asar, pp. 82
28. Hum Dagha Asar, pp. 101
29. Rafi, Habibullah, Folklore da Ilam Mor, Aman Kitab Khparolo Mosesa, 1396 lamreez, pp. 168
30. Abdul Hameed Baba, Dur Ao Marjan, pp. 61